# پښتونخوا کښې امن و امان

(یوه مذاکره)

(د باچاخان څېړنيز مرکز د خصوصي غونډې رپورټ)

ډاکټر محمد زبېر حسرت

د باچا خان مرکز په ريسرچ سنټر کښې د جولائي د مياشتې په اووم تاريخ ۲۰۰۹ء يوه خصوصي غونډه د محترم ډاکټر فضل الرحيم مروت په صدارت کښې سحر يوولس نيمې بجې شروع شوه چې د نظامت فرائض ئې د باچا خان ټرسټ د ريسرچ سنټر ډائرېکټر ښاغلي ځلان مومند ترسره کړل.

ښاغلي ځلان مومند د پروګرام مخ په وړاندې بوتللو دپاره ووې چې زمونږ د نننۍ غونډې ابجنډه دا ده چې په پښتنه سيمه کښې د امن او امان د حالاتو ننبه پښتون قوم ولې دے؟ تاسو ټولو مېلمنو ته خواست دے چې په دغه موضوع خپله قيمتي رائې مطالعاتي او تجزياتي شکل کښې راکړئ. دوي زياته کړه چې دا غونډه په دې حواله دوه برخې لري، يوه دا چې زمونږ په پښتنه سيمه کښې د امن او امان حالات ولې خراب دي او پښتانهٔ ئې په ننبه ولې دي، اسباب ئې څهٔ دي؟ او دوېمه دا چې حل ئې څهٔ دے؟

د بډه بېرې ډګري کالج د پوليټيکل سائنس استاذ اسټنټ پروفېسر محمد شفيع اپريدي ووې چې د دې وجوهات لږ نهٔ ډېر دي او حل ئې اسان نهٔ ګران دے. ټول وجوهات په شلمه صدۍ کښې شروع شو خو زيات شو او کم نهٔ شو. د ضياءالحق د رجيم نه تر د مشرف رجيم پورې دې حالاتو کښې ډېره تېزي راغلې ده او بيا اوسنو حالاتو کښې يو د سوات فضل الله او دوېم د سوات ډې سي او د دې ټولو حالاتو ذمه وار دي. وړاندې د اېم اېم اې حکومت کښې دا قيصه نوره هم مضبوطه شوه چې کوم ازاد خياله خلق وو هغه ئې هم له مېنځه يوړل او چا له ئې خُلې بندې کړې. دې هر څهٔ کښې د رياست لوئے لاس او رول دے چې له پښتو، پښتنو او پښتونخوا ئې ويره کېږي.

د جنګ يوه ځان له اکانومي راغله، يو سړي جبکټ جوړ کړو، بل وسله جوړه کړه او بل ځائے ورکړو نو دېو تېرو دېرشو کلونو کښې چې په دې خطه او منطقه کوم اثرات مرتب شوي دي، هغې يو پوره سسټم جوړ کړے دے. خو دا هر څهٔ د پښتنو په ذهني جهالت او پسماندګۍ تمامېږي. فاټا ته وګورئ، د پاکستان په هسپتالونو کښې د پنځو زرو تنو دپاره يو بډ دے، داسې د پښتونخوا هرې ادارې ته کتل پکار دي، اصلاحات ونهٔ شو. پکار خو دا وه چې ډېر زيات کار شوے وے، ځکه چې قومونه جوړېږي نو ترقي کوي او مونږ مخ په ښکته روان يو. د معاشياتو په لړ کښې محمد شفيع وړاندې وو چې کارخانې بندې شوې او خلق بې روزګاره شو بايد چې په دې ټولو خبرو په سياسي، اقتصادي، تعليمي او په معاشي توګه په هره حواله سوچ وکړو او ځان پرې پوه کړو، نو هله به ئې څهٔ

حل راوباسو.

د جسټ پیس انټرنېشنل چئیرمېن محترم علي ګوهر ووې چې دا ټولې خبرې مونږ کښې دي او مونږ په خپله د ټولو خرابیو او بربادیو جرړې یو. مونږ خپله پښتونولي پرېښې ده، مونږ خپله حجره پرېښې ده چې زمونږ په ټولنه کښې ئې د یو انسټیټیوټ حېثیت لرلو او زمونږ د قوم بچو پکښې د ژوند د ژوندو قدرونو زدکړه کوله. زمونږ جماعت، سکول او حجره او بیا زمونږ د جرګې سسټم زمونږ لویې ادارې وې.

د بد امنۍ اصل وجه د انصاف نۀ ملاوېدل دي، دلته د هر سړي په "ټوپک زما قانون" عمل کړے دے ځکه امن هم نشته او په نښه ئې هم پښتون دے، کۀ دوي چرې خپل ځان وپېژندۀ او یو موټے شو نو هر څۀ به سم شي.

د قائد اعظم یونیورسټۍ اسلام اباد د تاریخ د شعبې د پي ایچ ډي سکالر مطیع الله مروت ووې چې زما په خیال دلته د مذهب استعمال غلط شوے دے، د دې مرکزونه په پنجاب، لاهور، رائې ونډ کښې دي او افټرشاکس ئې زمونږ په پښتونخوا کښې محسوسېږي دا ولې؟ پکار دي چې زمونږ قومي مشران ئې معلومات وکړي.

د قائد اعظم یونیورسټۍ اسلام اباد هسټري ډیپارټمنټ د ایم فل سکالر ښاغلي محمد فیاض ووې چې دا هر څۀ چې کېږي پوره په پلان کېږي او د پاکستان حکومت پکښې پوره پوره شریک دے. په فاټا کښې اوس هم برټش راج دے پښتون اینټلجسیا له یو منظم تحریک (ارګنائزډ مومنټ) چلول پکار دي. زما په خیال د پښتنو خپله مېډیا نشته او پښتنو بچو له ډېره کمه خپله ژبه ورځي. اې وي ټي خېبر هم د پښتنو نۀ د پنجابیانو چېنل دے او د پښتنو خلاف یو سازشي محاذ پرانستے شوے دے چې له دوي خپل تهذیب، تمدن، ثقافت او خپله ژبه هېروي او د نورو اقدار او روایات پرې خپلولے شي.

ښاغلي نوشاد علي خان باتور ووې چې ورومبے څیز چې د یو قوم او ملک د ترقۍ دپاره ضروري وي هغه تعلیم او تربیت دے چې یو قوم ته دا پته نۀ وي چې زما حقونه څۀ دي او زما فرائض څۀ دي نو هغوي هېڅکله هم ترقي نۀ شي کولے، زما په خیال له هر څۀ اول خو دا ټول جاګیرداري او سرمایه داري نظام ختمول غواړي.

ښاغلي امجد شهزاد ووې چې زۀ د ښاغلي علي ګوهر صاحب ځینو خبرو سره اتفاق نۀ لرم ځکه چې زمونږ قبائلي او کلیوالو علاقو کښې اوس هم د حجرې سسټم موجود دے او د پښتون قدرونو او روایاتو امینې هم د غه حجرې او د جرګې سسټم دے. کۀ په ښارونو کښې دغه سسټم ختم دے نو دا قصداً نۀ دے ختم کړے شوے دا وخت ختمې کړې دي، د جرګې مخصوص نفسیات ختم شوي دي، د معاشرې رجحانات بدل شوي دي چې ډېر امکانات نۀ لري. په مېډیا، پرنټ او الېکټرانک مېډیا مونږ دا هر څۀ راجوړلے شو خو د نن دور د غوښتنو مطابق.

ښاغلي سید امجد علي شاه ووې چې د جنګ د اسبابو او د امن د نشت وجوهات دا حالات دي چې د افغان وار نه شروع شوي دي. پکار ده چې مونږ له خوک د اسلام په نامه نوره دوکه رانۀ کړي او مونږ پرې خپل امن او امان تالا ترغه او تباه و برباد نۀ کړو.

مشهور کالم نګار، شاعر او اديب سعدالله جان برق ووې چې مسلمانان په عامه توګه او پښتانۀ په خصوصي توګه په يوه نفسياتي عارضه "نرګسيت" کښې مبتلا دي چې دوي ته له ځانه علاوه څوک ښۀ په نظر نۀ راځي او خپل ځان ورته ډېر ښۀ او له هر چا نه اوچت ښکاري. کۀ د باچا خان اصلاحي تحريک لکه څنګه چې را شروع شوے ؤ هم هاغسې جاري پاتې شوے وے نو نن به پښتانۀ دې صورت حال ته څېلمه نۀ وو خو هغه هم په زوره د سياست چقړو ته راکښلے شۀ. باچا خان خو به وئيل چې پوهه رڼا ده نو کۀ مونږ خپل کور رڼا کړو نو د موجوده شخړو حل دا دے چې تعليم او پوهه حاصله کړو.

د پيس فاؤنډېشن ډائرېکټر ښاغلي مقصود احمد سلفي ووې چې مونږ له خپل ګرېوان کښې کتل پکار دي چې مونږ بهر څۀ کول هغه نن دا دے زمونږ خپله پښتونخوا کښې کېږي او د هغې نه په لويه پېمانه کېږي او دا زمونږ دپاره ډېره لويه تباهي او بربادي ده. د تعليم او تربيت دپاره چې کوم سکولونه جوړ شوي وو هغه ئې تباه کړل چې دلته دا ماحول وده ونۀ کړي. زما په نزد ئې يواځينے حل دا دے چې د باچا خان د عدم تشدد په فلسفه او نظريه عمل وکړے شي. خو دا چې کوم تشدد کېږي د اسلام په نوم يا په بله کومه نامه نو هغه ډېره ناوړے کار دے ځکه چې د اسلام فلسفه خود عدم تشدد فلسفه ده. اسلام او پښتونولي به خپلول غواړي، زمونږ اکثريت پښتانۀ دي او د اسلام سره ئې پوخ او کلک تړون دے يو شعور او ماحول پېدا کول دي چې د امن دپاره زمينه برابره کړي.

د ګلوبل پيس چئيرمېن ښاغلي ضياءالدين ووې چې په سوات کښې د بدامنۍ وجوهات څۀ دي؟ بين الاقوامي وجوهات او زمونږ خپل ملکي حالات ورسره تړلي دي. د پاکستان اصل پاکستان يعنې پنجاب او پنجابي استعمار مفادات ورسره تړلي دي او د وړو قومونو په حواله هغوی څۀ نظر لري دا ټول کار د اسټېبلشمنټ دے.

سعودي عرب او ملېشيا کښې امن دے چې هغه هم مذهبي رياستونه دي، هلته جماعتونه د رياست دي لکه چې دلته سکولونه او کالجونه او يونيورسټۍ دي خو زمونږ غټه کمزوري مذهب دے او په دغه نوم تل وهلي شوي او دوکه کړے شوي يو او ځنې ادارو راته دغه خلق يعنې ملايان کښېنولي، هلته تعليم کوؤ.

بل مونږ له د سوات د پخواني رياستي سسټم اثرات هم د هېرولو او انظر انداز کولو نۀ دي.

دوي ئې د حل دپاره ووې چې تعليم هم ډېر ضروري دے خو سياسي قيادت هم صحيح او مخلص پکار دے چې مفادپرست نۀ وي، د پښتون قوم خبره کوي او د پارټۍ خلقو ته هم شعور ورکړي لکه چې باچا خان به کلي په کلي او کور په کور ګرځېدو نو دوي له هم دغه عمل خپلول پکار دي. کۀ نن باچا خان او ګاندي جي ژوندي وو نو په خپل وطن کښې دې در په در شويو خلقو سره به ئې په کېمپونو کښې خېمې لګولې وې.

د هيومن رائټس کمېشن پروګرام آفيسر سعديه نعيم ووې چې موجوده حکومت د خلقو ذهانت او صلاحيت غلط استعمال کړے دے، پښتانۀ تباه شوي دي. د پوهې او شعور کمے دے. نسلي تعصب هم پکښې لوئے لاس او کردار لري چې مونږ پښتانۀ يو او دا نور خلق کسب ګر او د وړو ذاتونو خېلونو او قبيلو دي او دا خبره هم له چا پټه

نۀ ده چې يو پر تشدد طرز عمل د وخت له سره راروان دے. مونږ له خپله رويه کښې بدلون راوستل ډېر ضروري دي چې ولې پښتانۀ بهر دنيا کښې د دهشت گردو او پرتشدده خلقو په حېث پېژندے شي او باچا خان چې کوم د عدم تشدد د فلسفې تحريک پېش کړے وۀ، هغه په نظر نۀ راځي. دې وړاندې ووې چې هم دا طالبان وو چې زمونږ ورونه وو او دېو پلرونو نيکونو اولاد يو خو مونږ ته د اسلام غلط تبليغ شوے دے او زمونږ علم او ابلاغ کښې ډېر کمے دے.

ښاغلي ځلان مومند ووې چې پښتون دهشت گرد او متعصبه نۀ دے خو د سټېريو تعصب ښکار دے او دا هاغه ايجنډه ده چې پښتانۀ په دغه غلطه او خرابه نامه بدنامول غواړي. زۀ دا خبره کوم چې څومره هم امن وۀ نو هغه په پښتونخوا کښې وۀ او باچا خان او د هغوي ملگريو ئې تحفظ کړے دے.

پښتانۀ په داسې سټرېټيجک پوزېشن کښې پراتۀ دي چې څوک هم د بهر نه راغلي دي نو دوي سره مخ شوي دي او اوس هم دا هڅه کولے شي چې دوي په يوه داسې بلا واړولے شي چې تر عمره عمره ئې ترې خلاصے نۀ کېږي. مونږ نۀ دهشت گرد يو نۀ متعصبه، پښتون ته ټوپک د پاکستان مېډيا په غاړه کړے دے او دا خبره مونږ د ښاغلي ډاکټر مروت صاحب نه زده کړې ده.

پښتانۀ هېڅ کله هم داسې نۀ دي، د دوي استحصال شوے دے، په دوي ظلم شوے دے، د بابړې واقعه رايادة کړئ، هغه د قيوم خانۍ ښکاره دهشت گردي ده. د ايوب خان مارشل لاء ښکاره دهشت گردي ده. دغه شان څومره فوځي حکومتونه چې راغلي دي هغوي د دهشت علامتونه گرځېدلي دي او په دې دهشت گردۍ کښې رياست باقاعده حصه دار دے.

ځلان مومند د سعديه نعيم د هاغه خبرې په ترڅ کښې ووې (چې پکښې حکومت د خلقو د ذهانت او صلاحيت د غلط استعمالولو ذمه وار گرځولے شوے وۀ) چې تاسو د رياست پاليسۍ ته اشاره وکړه نو په کراچۍ کښې د لياقت علي خان په ايماء هندوستاني مهاجر په کراچۍ کښې مېشته کول او هغوي له په سندهيانو اکثريت او فوقيت ورکول هم د سټېټ (پاکستان حکومت) ښکاره دهشت گردي وه.

د غونډې مشر ښاغلي ډاکټر فضل الرحيم مروت صاحب د ټولو راغليو مېلمنو مننه وکړه چې په دې خصوصي موضوع ئې خپل گټور خيالات څرگند کړل. دوي ووئيل چې داسې يو کانفرنس مونږ د امن په نامه د اريانا انسټيټيوټ اسلام اباد سره په گډه کړے وۀ او په هغې کښې هم ډېر گټور بحثونه شوي وو او ډېر ښۀ تجويزونه مخې ته راغلي وو.

زۀ ځلان مومند صاحب له تسلي ورکوم چې اوس کۀ خبر وي مونږ داسې پښتو قومي نصاب راجوړ کړے دے چې هغې کښې د خپلې دې پښتونخوا د دې د تهذيب و ثقافت، شخصياتو او د ازادۍ د تحريک په حقله مو پکښې ډېر څۀ اچولي دي او ډېر زر به پرې کار شروع شي.

دوي وړاندې ووې چې د پاکستان حکومت په پاکستان کښې اوسېدونکي ټول قومونه يو پاکستانے قوم گڼي خو داسې نۀ ده ځکه چې هر قوم سره د برابرۍ په بنياد سلوک نۀ کوي. د فاټا قانون

ظالمانه دے، دلته پښتونخوا ته هم په ښه سترګه نۀ ګوري. دوي وړاندې ووې چې د افغانستان او ايران انقلابونه واړۀ نۀ وو ځکه چې پاکستان پکښې سپېڅلی شو. مونږ تل د امن لاره ټاکلې ده او په دې مو د باچا خان د عدم تشدد په فلسفه عمل کړے دے خو نورو خلقو د جنګ لمبو ته غوږ ځولي يو. دوي د برق صاحب په تړخ کښې ووې چې يقيناً مونږ به مرو او بهرني يرغلګر چې زمونږ د پښتونخوا په خاوره راغلي دي نو د جنګ لمبې ئې له ځانه سره راوړې دي خو په جنګ او امن کښې ډېر فرق دے او په دغه فرق مونږ او تاسو ډېر ښۀ پوهېږو او هم دې سره دا ننني خصوصي غونډه چې د "امن" په نوم راجوړه کړې شوې وه سر ته ورسېده.

په ننني غونډه کښې د ذکر شويو ښاغليو نه علاوه ښاغليو مشتاق مجروح يوسفزي، افشان احسان الله، ناصر خان، سيف الرحمان سيفي او ډاکټر محمد زبېر حسرت هم شريک وو.